عبدالصمد اڅکزی د ۲۰۱۲ **کال د مارچ په ۲ نیټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره په تړاو کې" د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې "، " د وسلو او نورو اړوندو موادو د تدارکاتو ، پلورلو او لیږد" ، اویا " د هغوی لپاره د استخدام "، " هغوي چې توظیف شوي دی اود نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځآي دي چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي" په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*
عبدالصمد اڅکزی د طالبانو یو لوړ پوړی غړی دی چې د ځاي پر ځاي کیدونکو چاودیدونکو توکو په جوړولو بوخت و او د دغې ډلې د ملاتړ شبکه یې چلوله. صمد د ۲۰۱۰ کال په نیمه کې د ځاي پر ځای کیدونکو چاودیدونکو توکو د اجزاوو د تدارکاتو او زیرمه کولو ، د انفجاروركولو د وسیلو د جوړولو ، او د افغانستان په لویدیځ او سهیل کې د طالبانو د جنګیالیو د ملاتړ لپاره یې د ځاي پر ځاي کیدونکو چاودیدونکو توکو د روزنې مسوولیت درلود.

صمد همدارنګه په افغانستان کې د طالبانو له اړخه په بریدونو کې ښکیل و. د ۲۰۱۱ کال په لومړیو کې صمد د طالبانو د غړو سره کار کولو چې د افغان سرحدي پولیسو قومندان قتل کړي او د دې کار لپاره یې ځانمرګي بریدګراستخدام کړل. په دغه وخت کې صمد پنځه تنه ځانمرګي بریدګر په افغانستان کې ځاي پر ځای کړل چې د نړیوالو سوله ساتو ځواکونو او افغان چارواکو پر ضد بریدونه ترسره کړي. د ۲۰۱۰ کال په لومړیو کې صمد پنځه تنه طالب ځانمرګي بریدګر د کندهار ولایت ته واستول چې هلته چارواکي په نښه کړي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

***

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

<u>**TAi.161 بخت ګل**</u>

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځېدله : د ۲۰۱۲ کال د جون ۲۷ نیټه

بخت ګل د **۲۰۱۲ کال د جون په ۲۷ نیټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " ، " هغوي ته د وسلو او اړوندو موادو د تدارکاتو ، پلورلو او لیږدونې" او " په بل ډول د توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*

بخت ګل د ۲۰۰۹ کال څخه کله چې د هغه سلف په افغانستان کې ونیول شو د حقاني د شبکې (TAe.012) د مخابراتو یو کلیدي غړی دی. د ۲۰۱۱ کال څخه په مستقیم ډول بدرالدین حقاني ( مړ دی) ته راپور ورکوي ، او د هغو کسانو لپاره چې غواړي د نوموړي سره اړیکه ولري د رابط غړي په توګه کار کوي. د ګل په مسوولیتونو کې د حقاني د شبکې لوړ پوړو چارواکو ، طالب چارواکو او په افغانستان کې د مشروعو رسنیو خپرونو ته د افغانستان څخه د قومندانانو د راپورونو بیا رسول شامل دي.
ګل همدارنګه د حقاني د شبکې له چارواکو سره کار کوي چې په هغو کې بدرالدین حقاني هم شامل دی څود افغانستان — پاکستان د پولې په سیمه او ختیځ افغانستان کې د حقاني د شبکې د شورشیانو ، بهرنیو جنګیالیو او وسلو د خوځښت چارې همغږې کړي. د ۲۰۱۰ کال څخه ګل په افغانستان کې جنګیالیو ته د بدرالدین حقاني حکمونه رسول. د ۲۰۰۹ کال په وروستیو کې ګل د حقاني د شبکې دوهمې قدمې قومندانانو ته چې د میرامشاه او افغانستان تر منځ یې سفرونه درلودل پیسې ویشلې.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

عبدالروف ذاکر (TAi.164) د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۵ نیټه په لست کې راغلی دی
د حقاني شبکه (TAe.012) د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۵ نیټه په لست کې راغلې ده

***

<u>**TAi.162 عبدالستار عبدالمنان**</u>

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځېدله : د ۲۰۱۲ کال د جون ۲۹ نیټه

عبدالستار عبدالمنان د **۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره په تړاو کې" د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یو ځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات*

عبدالستار عبدالمنان د حاجي خيرالله حاجی ستار د صرافۍ .(TAe.010) شريک مالک او چلونکی دی. ستار او خيرالله بارکزای خدای نظر (TAi.163) په شريکه سره د حوالې د دفتر ( د غير رسمی حوالو خدمات) مالکيت لري او چلونکي دي چې په افغانستان ، پاکستان ، او دوبۍ کې د HKHS په نوم شهرت لري او د افغانستان- پاکستان په سرحدی سيمه کې د HKHS د څانګې مديريت کوي. د ۲۰۰۹ کال په وروستيو کې ستار او خيرالله په HKHS کې شريکه ونډه درلودله. ستارHKHS تاسيس کړ اوپيردونکو/ مراجعينو HKHS د ستار او خيرالله د نومونو د شهرت له امله غوره کړ.

ستار په زرګونو ډالر طالبانو ته ورکړل څو په افغانستان کې د طالبانو د فعاليتونو ملاتړ وکړي او هغو طالبانو ته يې پيسې و ويشلې چې د حوالې څخه کار اخلي. د ۲۰۱۰ کال څخه ، ستار طالبانو ته مالي مرستې برابرې کړې ، او د طالبانو يو تن قوماندان او دهغه ملاتړو د شورش د ملاتړ لپاره په زرګونو ډالرد ستار له لارې وليږدول. د ۲۰۰۹ کال په وروستيو کې ، ستار د طالبانو لوړ پوړي چارواکي ميلمانه کړل ، هغوي ته يې په لسګونو زره ډالر برابرکړل څو د هغو طالبانو سره مرسته وکړي چې د افغانستان د هلمند د ولايت د مارجې ، نادعلي په ولسواليو کې د ايتلافي ځواکونو پرضد وجنګيږي ، او مارجې ته يې د طالبانو د يو غړي په ليږدولو کې مرسته وکړه. د ۲۰۰۸ کال څخه ستار او خيرالله د ډونرانو څخه پيسې راټولې کړې او هغو طالبانو ته يې دغه پيسې و ويشلې چې د دوي د حوالې څخه کار اخلي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
د حاجي خيرالله حاجي ستار د صرافۍ (TAe.010) دفتر د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نيټه په لست کې راغلی
خيرالله بارکزای خدای نظر (TAi.163) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نيټه په لست کې راغلی دی

***

<u>**TAi.163 خيرالله بارکزای خدای نظر**</u>
هغه نيټه چې دغه ليکنه د کميټې په ويب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځيدله : د ۲۰۱۲ کال د جون ۲۹ نيټه
خيرالله بارکزای خدای نظر د **۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نيټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پريکړه ليک د ۳ پراګراف په تعقيب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعاليتونو په تمويل ، پلانولو ، تسهيل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کيدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، يا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د توظيف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعاليتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره يوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټيکاو او امنيت تهديدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات :*
خيرالله بارکزای خدای نظر د حاجي خيرالله حاجی ستار د صرافۍ .(TAe.010) (HKHS) شريک مالک دی ، د ۲۰۰۹ کال څخه ، خيرالله او عبدالستار عبدالمنان (TAi.162) په HKHS کې برابره همکاري درلوده ، هغوي په ګډه د صرافۍ هغه دفتر چې HKHS نوميږي په افغانستان ، پاکستان ، او دوبۍ کې چلولو او د HKHS يوه څانګه يې د افغانستان –پاکستان د پولې په سيمه کې مديريت کوله. د ۲۰۱۰ کال په لومړيو کې خيرالله د HKHS د کابل د څانګې مشر و.
د ۲۰۱۰ کال څخه خيرالله د طالبانو د لوړې کچې د مشرتابه لپاره حواله دار و او طالبانو ته يې مالي مرستې برابرولې. خيرالله د خپل کاروبار د شريک همکار ستار سره په زرګونو زره ډالر طالبانو ته برابرکړل څو په افغانستان کې د طالبانو د فعاليتونو ملاتړ

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

وکړي. په ۲۰۰۸ کال کې خیرالله او ستار د ډونرانو څخه پیسې راټولې کړې او هغو طالبانو ته یې و ویشلې چې د دوي د حوالې څخه کار اخلي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
د حاجي خیرالله حاجي ستار د صرافی (TAe.010) دفتر د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه په لست کې راغلی
حاجي ستار عبدالمنان ,(TAi.162) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه په لست کې راغلی دی

***

<u>**TAi.164 عبدالروف ذاکر**</u>
هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۲ کال د نوومبر ۵ ده
عبدالروف ذاکر **د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۵ نیټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات :*
عبدالروف ذاکر د حقاني د شبکې (TAe.012) د ځانمرګو بریدونو مشر او د افغانستان د کابل ، تخار ، کندز او بغلان ولایتونو کې مسوول قوموندان دی. ذاکر د حقاني د شبکې مشر سراج الدین حقاني (TAi.144) ته د اټکل له مخې په ۲۰۰۸ کا کې مراجعه وکړه او له هغه څخه یې د مالي مرستو غوښتنه وکړه چې په بدل کې به دحقاني د شبکې نفوذ او عملیات د افغانستان شمال ته پراخوي او په دې توګه د سراج الدین د اعتبار وړ او باوري شخص شو.

د ځانمرګو بریدونو د مشر په توګه ذاکر د استخدام شوو کسانو د روزنې مسوولیت لري. د هغه د پروګرام له مخې استخدام شوي کسان د کوچنیو وسلو ، ثقیله تجهیزاتو او د اساسي ځاي پر ځاي کیدونکوچاودیدونکو توکو د جوړلو لپاره روزل کیږي.
ذاکر د حقاني د شبکې په زیاترو سترو او پیچلو ځانمرګو بریدونو کې لاس لري او یوه اندازه په هغو وروستنیو پریکړو کې مسوولیت لري چې ایا د لوړې کچې هغه بریدونه چې د محلي ، د ولسوالۍ د کچې د قوموندانانو له خوا پلان شوي دي په هکله دغې پریکړې عملي شي او یا هم ونه شي. هغه بریدونه چې په کې د ذاکر د پروګرام څخه کسان غوره شوي وو په هغو کې د کابل په انتر کانتیننتل هوټل باندې برید چې په کې ۱۱ ملکي وګړي او دوه افغان پولیس و وژل شول ، او په کابل کې د امریکې د متحده ایالاتو په سفارت باندې برید ، چې په هغه کې ۱۶ افغانان لږ تر لږه د شپږو ماشومانو په شمول و وژل شول شامل دي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې*
د حقاني شبکه (TAe.012) د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۵ نیټه په لست کې راغلې ده
القاعده ,(QDe.004) د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۶ نیټه په لست کې راغلی ده
جلال الدین حقاني (TAi.040) د ۲۰۰۱ کال د جنوری په ۳۱ نیټه په لست کې راغلی دی

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

سراج الدين جلال الدين حقاني (TAi.144) د ۲۰۰۷ کال د سپټمبر په ۱۳ نېټه په لست کې راغلی دی
نصیرالدین حقاني ,(TAi.146) د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نېټه په لست کې راغلی دی
خلیل احمد حقاني (TAi.150) د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۹ نېټه په لست کې راغلی دی
سنګين ځدران شير محمد (TAi.152) د ۲۰۱۱ کال د اګست په ۱۶ نېټه په لست کې راغلی دی
عبدالعزیز اباسین (TAi.155) د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په ۴ نېټه په لست کې راغلی دی
فضل ربي ,(TAi.157) د ۲۰۱۱ کال جنورۍ په ۶ نېټه په لست کې راغلی دی
احمد جان وزير (TAi.159) د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په ۶ نېټه په لست کې راغلی دی
بخت ګل (TAi.161) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۷ نېټه په لست کې راغلی دی

***

<u>**TAi.165 محمد قاسم مير ولي خدای رحیم**</u>

هغه نېټه چې دغه لیکنه د کمېټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځېدله : د ۲۰۱۲ کال د نوومبر ۲۱ ده

محمد قاسم مير ولي خدای رحیم د ۲۰۱۲ **کال د نوومبر په ۲۱ نېټه** د ۱۹۸۸ ( ۲۰۱۱ ) ګڼې پرېکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقيب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کېدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د توظيف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*

محمد قاسم میرولی خدای رحیم د راحت لمټډ (TAe.013) مالک دی چې هغه په افغانستان ، پاکستان او ایران کې څانګې لري او د طالبانو د شورشي فعالیتونو تمویل کوي او ورته اسانتیاوې برابروي.

د طالبانو لوړ پوړو مشرانو پخپله شخصاً د قاسم او راحت د لمټډونو څخه لیدنه کړې ده. هغوي په وار وار د راحت لمټډ څانګو ته ورغلي دي او د قاسم د خدماتو څخه یې د خپلو پیسو د ترلاسه کولو ، زیرمه کولو او لیږلو لپاره کار اخیستی دی څو چې هغوي خپل شورشي فعالیتونه د افغانستان دننه او د طالبانو د تمویل د زیاتولو لپاره د نشه یي توکو د فعالیتونو د ملاتړ لپاره پیسې واستوي.

په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو د لوړپوړو مشرانو سره د یوې غونډې په جریان کې قاسم د راحت لمټډ له لارې د طالبانو د تمویل د چارو د سمبالولو د پېچلتیا په لړ کې خپله هوښیاري او زرنګي وښوله. قاسم پخپله د طالب شورشي قوماندانانو او شبکو سره د افغانستان دننه شامل دی چې د وسلو په اکمالاتو کې ښکیل دي چې په کې ځای پرځای کېدونکي چاودېدونکي توکي هم شامل دي. قاسم د راحت لمټډ څخه کار اخیستی څو د نشه یي توکو خپلې او نورو شبکو ته چې د افغانستان/پاکستان په سرحدي سیمه کې موقعیت لري او د طالبانو سره په تړاو کې دي مالي خدمات برابروي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

راحت لمټډ(TAe.013) د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۲۱ نېټه په لست کې راغلی دی

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

***

**TAi.166 احمدشاه نورزی عبیدالله**

.

هغه نيته چې دغه ليکنه د کميټې په ويب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځيدله : د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ ۲۶ ده
احمد شاه نورزی عبيدالله د **۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۲۶ نيټه** د ۲۰۸۲(۲۰۱۲) ګڼې پريکړه ليک د ۲ پراګراف په تعقيب د طالبانو سره په تړاو کې د" هغوي د کړنو او فعاليتونو په تمويل ، پلانولو ، تسهيل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کيدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، يا د هغوي په ملاتړ کې " او" په بل ډول د روشن د صرافۍ(TAe.011) او ګل آغا اسحق زی (TAi.147) د فعاليتونو ملاتړ کوي" چې په افغانستان کې سوله ټيکاو او امنيت تهديدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافِ معلومات:.*
احمد شاه نورزی عبيدالله د روشن د صرافۍ (TAe.011) د دفتر مالکيت لري او هغه چلوي ، چې دغه دفترد طالبانو په ملاتړ کې مالي ، مادي ، يا ټکنالوژيکي ملاتړ ، او يا هم مالي او نور خدمات برابروي. د روشن د پيسو د تبادلې صرافي د طالبانو د نظامي عملياتو اوپه افغانستان کې د نشه يي توکو د سوداګرۍ لپاره د طالبانو د نقش په موخه پيسې زيرمه کوي او ليږدوي يې. په ۲۰۱۱ کال کې د روشن صرافي د پيسو د خدماتو لومړنۍ برابرونکې صرافي " د حوالو دفتر" وه چې د افغانستان د هلمند په ولايت کې د طالب چارواکو له خوا کارول کيدله.

احمدشاه د هلمند په ولايت کې د څو کلونو لپاره د طالب مشرانو لپاره د حوالې خدمات برابرول ، او د ۲۰۱۱ کال څخه د طالبانو لپاره د پيسو د خدماتو يو باوري دفتر و. د ۲۰۱۲ کال په لومړيو کې طالبانو احمد شاه ته امر وکړ چې د هلمند د ولايت په لشکر ګاه کې يولړحوالو ته پيسې وليږدوي ، چې له همغه ځايه د طالبانو يو لوړ پوړي چارواکی به بيا پيسې اختصاصولې.

د ۲۰۱۱ کال په وروستيو کې احمدشاه په سلګونو زره امريکايي ډالر د دې لپاره راټول کړل چې د طالبانو مالي کميسيون ته يې وليږدوي او په سلګونو زره امريکايي ډالرېې طالبانو ته وليږدول چې په کې د طالبانو لوړ پوړي قومندانان هم شامل وو. همدارنګه د ۲۰۱۱ کال په وروستيو کې احمدشاه د پاکستان په کويټه کې د حوالې د همدغې څانګې څخه د طالبانو له اړخه د پيسو يو ليږد تر لاسه کړ چې هغه د دې لپاره وکارول شو چې پرې کيمياوي سرې او د ځاي پرځاي کيدونکو چاوديدونکو توکو لپاره پرې اجزاوې چې په کې بطرۍ او د انفجار ورکولو تار شامل وو را ونيسي.

د ۲۰۱۱ کال په نيمه کې د طالبانود مالي کميسيون مشر ګل آغا اسحق زی (TAi.147) احمدشاه ته هدايت ورکړ چې د طالبانو لپاره د روشن صرافۍ ته څو مليونه امريکايي ډالر ورکړي . ګل آغا د دې وضاحت ورکړ چې کله د پيسو ليږد اړين وي هغه به احمدشاه ته د طالبانو له خوا د پيسو د تر لاسه کوونکي په اړه معلومات ورکړي. احمدشاه به بيا وروسته لازمي پيسې د خپلې حوالې د سيستم له خوا برابرې کړي . د ۲۰۱۰ کال په نيمه کې احمدشاه د پاکستان او افغانستان تر منځ د طالب قومندانانو او د مخدره موادو د قاچاقچيانو لپاره پيسې وليږدولې. د هغه له خوا د تسهيلاتو د برابرولو د خدماتو سربيره احمدشاه همدارنګه په زياته پيمانه خو په نا معلوم مبلغ سره پيسې په ۲۰۱۱ کال کې طالبانو ته اعانه کړې.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

د روشن د صرافۍ ,(TAe.011) دفتر د ۲۰۱۲ کال په ۲۹ نیټه په لست کې راغلې ده
ګل آغا اسحق زی ,(TAi.147) د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نیټه په لست کې راغلی دی

***

**<u>TAi.167 ادم خان اڅکزی</u>**

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۳ کال د اپریل۱۶ نیټه
ادم خان اڅکزی د **۲۰۱۳ کال د اپریل په ۱۶ نیټه** د ۲۰۸۲ (۲۰۱۲) د دوهم پراګراف په تعقیب دطالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*

ادم خان اڅکزی د طالبانو لپاره د ځاي پرځاي کیدونکو چاودیدونکو توکو تیارونکی او تسهیل کوونکی دی. د ۲۰۱۲ کال څخه ادم خان تعبیه شوي چاودیدونکي توکي جوړ کړل او د ځاي پرځاي کیدونکو چاودیدونکو توکو لپاره یې نږدې ۱۵۰ د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو جوړونکي د طالبانو د ملاتړ لپاره وروزل. د ۲۰۱۰ کال څخه ادم د طالبانو یو وسله وال مشر و چې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د تولید او ځانمرګو واسکټونو د جوړولو لپاره یې مسوولیت درلود. آدم د طالبانو د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د تسهیل کوونکي ، عبدالصمد اڅکزي (TAi.160) مرستیال و ، او د صمد د مرستیال په توګه یې د دغې شبکې لپاره د تدارکاتو همغږي کوله.

د دې سربیره د هغه د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د تسهیل د دندو سره ، ادم د طالبانو لپاره د مشرتابه په نورو ځایونو کې هم کار کړی. د ۲۰۱۰ کال په نیمایي کې آدم د افغانستان د بادغیس د ولایت لپاره د طالبانو د مشر په توګه وټاکل شو. آدم همدارنګه د افغانستان د سر پل او سمنګانو د ولایتونو لپاره د طالبانو پخوانی مشر و. د طالبانو د نظامي مشر په توګه د افغانستان د کندهار په ولایت کې آدم په ګاونډیو هیوادونو کې د ځانمرګو بریدونو په تنظیمولو کې ښکیل و.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

عبدالصمد اڅکزی (TAi.160) د ۲۰۱۲ کال د مارچ په ۲ نیټه په لست کې راغلی دی

***

**<u>TAi.168 قاري سیف الله توخي</u>**

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۴ کال د مارچ په۱۹ نیټه

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

قاري سيف الله توخي د **۲۰۴ کال د مارچ په ۱۹ نېټه** د ۲۰۸۲ (۲۰۱۲) پريکړه ليک د ۲ پراګراف په تعقيب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعاليتونو په تمويل ، پلانولو ، تسهيل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کيدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، يا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظيف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعاليتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره يوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټيکاو او امنيت تهديدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*
قاري سيف الله توخي د افغانستان د زابل په ولايت کې د طالبانو تش په نوم والی دی. هغه په مستقيم ډول د زابل په ولايت کې د دوو ډلو قومانده پرغاړه درلودله چې په کې نږدې ۵۰ طالب جنګيالي شامل وو. قاري سميع الله توخي د دغو ډلو څخه کار اخيست او د زابل په ولايت کې د افغانستان د اسلامي جمهوريت او د ايتلافي ځواکونو پرضد يې ترهګريز فعاليتونه تنظيمول. قاري سيف الله توخي همدارنګه خپلو مادونانو ته حکمونه صادرکړي چې هغوي بيا د زابل په ولايت کې د تعبيه شوو چاوديدونکو توکو چاودنې ، د کوچنيو وسلو بريدونه اود راکټونو بريدونه تر سره کړي دي.

د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر په ۲ نېټه د زابل د ولايت د قلات په ولسوالۍ کې د شپې پرمهال د طالبانو درې جنګيالي و وژل شول. هغوي هغه مهال و وژل شول چې تعبيه شوي چاوديدونکي توکی يې ځاي پرځاي کولو او پرې وچاوديد. دغه درې واړه کسان د قاري سيف الله توخي د کسانو په نوم پيژندل شوي دي.

د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ د مياشې په ۱۴ د طالبانو شپږ شورشيان ، چې د قاري سيف الله توخي مادونان وو د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو ( ايساف) يو کتاريې تربريد لاندې را وست . د طالب شورشيانو دغه کتار د ترنک او جلدک د ولسوالۍ د عبدالحق قلعې په کلي کې د آر پي جي په ذريعه د راکټي بريد لاندې را وست.

د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر په ۲۸ نېټه د قاري سيف الله توخي د هدايت لاندې دوه ځانمرګي بم چونکو بريدونه پلانول. يو تن بم چونکي دا پلان درلود چې د زابل د ولايت د قلات په ولسوالۍ کې د ولايتي بيا رغونې ټيم ( پي آر ټي) تر بريد لاندې ونيسي. ځانمرګي بريدګر پلان درلود چې د شاجوی په ولسوالۍ کې د ايساف مرکز تر بريد لاندې را ولي. ځانمرګي بريد کوونکو دا پلان کړې وه چې د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر د ۲۹ او د اکتوبرد لومړۍ نيټې ترمنځ د ايتلافي ځواکونو مرکزونه تر بريد لاندې ونيسي.
طالبانو د قاري سيف الله توخي تر مشرتابه لاندې په محل کې د ۲۰۱۱ کال د اپريل په ۲۰ نېټه د موبايل ټيليفون محلي شبکو ته اخطار ورکړ چې په دغه ولايت کې خپل خدمات پای ته ورسوي. که چيرې د هغوي خدمات د طالبانو د هدايت سره سم ونه درول شي طالبان به د هغوي انتنونه ، چې د زابل په ولايت کې د سړک پر غاړه دي ويجاړ کړي.

د ۲۰۱۰ کال د نوومبر په ۲۵ نېټه قاری سيف الله توخي د زابل د ولايت د اتغر د ولسوالۍ لپاره د طالبانو قوماندان او تش په نوم ولسوال ته امر وکړ چې د قلات ښار ته ، چې د زابل د ولايت مرکز دی ، سپکې وسلې ورسوي. په دغه ليږد کې نږدې ۲۵ کلاشنيکوفونه ، ۱۰ ماشينګنې ، پنځه آر پي جي ، ۲۰ لاسی بمونه شامل وو. ځانمرګو بريدګرو د دې پلان درلود چې د دغو وسلو څخه د ايساف د ځواکونو او افغان امنيتي ځواکونو پر ضد او په تيره بيا د ملي اردو دوهمه لوا او د پوليسو قوماندانۍ تر هدف لاندې را ولي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
القاعده ,(QDe.004) د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۶ نېټه په لست کې راغلی ده

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

***

**TAi.169 یحی حقاني**

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځېدله : د ۲۰۱۴ کال د جولای ۳۱نیټه

یحی حقاني د **۲۰۱۴ کال د جولای په ۳۱ نیټه** د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) ګڼې پریکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره په تړاو کې " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*

یحی حقاني ، د حقاني د شبکې (TAe.012) یو لوړ پوړی غړی دی چې هغه د دغې ډلې په نظامي ، مالي او د پروپاګنډې په فعالیتونو کې له نږدې څخه ښکیل و. یحی هغه وخت د دغې ډلې د سرپرست مشرپه توګه دنده ترسره کړې کله چې د دغې ډلې لوړ پوړي مشران ، سراج الدین حقاني (TAi.144) ( د یحی اوخښې) ، بدرالدین حقاني ( مړ دی ، پخوا په لست کې و) او خلیل حقاني (TAi.150) حضور نه درلود. یحی همدارنګه د حقاني د شبکې د لوژیستیکي چارو د مسوول په توګه دنده درلودله او د حقاني د شبکې د قوماندانانو لپاره یې د پیسو د برابرولو آسانتیاوې چمتو کړي دي چې په کې د حقاني د شبکې د قوماندان سنګین ځدران شیرمحمد (TAi.152) یو تن مادون چې اوس مړ دی او د حقاني د شبکې د ځانمرګو بریدونو مشر ، عبدالروف ذاکر (TAi.164) شامل دي. یحی همدارنګه د سراج الدین جلال الدین حقاني د عربي ژبې د ژباړن او پیغام رسونکي دنده تر سره کړې.

یحی د حقاني د شبکې د بریدونو او نورو فعالیتونو په ملاتړ کې د دغو فعالیتونو لپاره مهمې اسانیتاوې برابرې کړې. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې د حقاني د شبکې د جنګیالیو لپاره د تمویل کولو تسهیلات چمتو کړل. همدارنګه د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې یحی د حقاني د شبکې لوړ پوړي مشر ، خلیل حقاني ته د عربي اماراتو څخه د تدارکاتو د لیږد چارې همغږې کړې. په ۲۰۱۲ کال کې یحی د تعبیه کیدونکو چاودیدونکو توکو او مخابراتي تجهیزاتو د ویش چارې همغږې کړې او هغه همدارنګه د افغانستان د لوګر په ولایت کې د ایتلافي مخکښو عملیاتو په قرارګاه باندې د ۲۰۱۲ کال د اګست د میاشتې د ۷ نیټې د برید لپاره تیاریانې له سره وارزولې چې په دغه برید کې ۱۳ تنه ، چې په هغو کې یولس تنه یې ملکی افغان وګړي وو ټپیان شول. یحی د دې ترمخه په کابل کې په انتیر کانتیننټل هوټل باندې د ۲۰۱۱ کال د جون د میاشتې د برید په اړه له وړاندې څخه خبرتیا درلودله چې د سراج الدین حقاني او بدرالدین حقاني له خوا یې لارښوونه کیدله. په دغه برید کې ۱۸ تنه و وژل شول او ۱۲ تنه نور ټپیان شول. د ۲۰۱۱ کال څخه یحی د سراج الدین حقاني څخه د حقاني دشبکې د قومندانانو د عملیاتو لپاره پیسې ترلاسه کوي.

یحی ځینې وختونه د حقاني د شبکې او القاعده(QDe.004) (AQ) ترمنځ د ارتباطي غړي په توګه کار کوي او نوموړي د القاعده سره د ۲۰۰۹ کال راهیسې اړیکې ساتلي دي. په دغه نقش کې ، یحی د القاعده غړو ته په سیمه کې د هغوي د شخصي لګښتونو لپاره پیسې برابرې کړي دي. د ۲۰۰۹ کال د نیمې څخه نوموړي د حقاني د شبکې د لومړني رابط غړي په توګه د بهرنیو جنګیالیو سره ، چې په کې عرب ، ازبک او چیچن شامل دي اقدام کړی دی.

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

یحی همدارنګه د حقاني د شبکې او طالبانو د رسنیو او پروپاګنډ فعالیتونه تنظیم کړي دي. د ۲۰۱۲ کال د لومړیو څخه یحی معمولآ د سراج الدین حقاني سره لیدنې کړي دي څو د طالبانو د پروپاګنډ ې د هغه ویډیو په هکله چې یحی ترتیب کړی او جوړ کړی و نهایي تایید تر لاسه کړي. یحی د حقاني د شبکې د رسنیو په فعالیتونوکې تر لږه د۲۰۰۹ کال راهیسې کله چې هغه د حقاني په مدرسه کې د رسنیو سټډیو جوړه کړه ، کار کړی دی چې په دغه سټډیو کې یې هغه ویډیو ګانې ایډیټ کړي دي چې په افغانستان کې یې د جنګیدونکو څخه تر لاسه کړي. د ۲۰۱۱ کال څخه یحی د سراج الدین حقاني او یا هم دهغه د یو تن قایم مقام څخه د رسنیو د لګښتونو لپاره پیسې تر لاسه کړي دي.

د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې یحی لږ تر لږه دوه ځل په میاشت کې پخپله ، او ځینې وختونه د سراج الدین حقاني سره سفرونه کړي دي څود حقاني د شبکې مالي نماینده نصیرالدین حقاني (TAi.146) سره چې اوس مړ دی لیدنې ولري.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
سراج الدین جلال الدین حقاني (TAi.144) د ۲۰۰۷ کال د سپټمبر په ۱۳ نیټه په لست کې راغلی دی
خلیل احمد حقاني (TAi.150) د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۹ نیټه په لست کې راغلی دی
سنګین ځدران شیر محمد (TAi.152) د ۲۰۱۱ کال د اګست په ۱۶ نیټه په لست کې راغلی دی
د حقاني شبکه (TAe.012) د ۲۰۱۲ کال د نومبر په ۵ نیټه په لست کې راغلې ده
القاعده ,(QDe.004) د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۶ نیټه په لست کې راغلی ده

***

**<u>TAi.170 سیدالله جان</u>**

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۴ کال د جولای۳۱ نیټه

سیدالله جان د **۲۰۱۴ کال د جولای په ۳۱ نیټه** د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) پریکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*
سیدالله جان د حقاني د شبکې (TAe.012) یو لوړ پوړی غړی دی او د ۲۰۱۳ کال څخه هغه د حقاني د شبکې د مرستیال ، د افغانستان د شمالي زون لپاره د حقاني د شبکې د قومندان او د حقاني د شبکې د لوژیستیکي چارو د همغږه کوونکي دنده تر سره کړې ده.

د ۲۰۱۳ کال په وروستیوکې سیدالله د هغو نقلیه وسیلو د ډرایورانو د ملاتړ لپاره مهمې آسانتیاوې برابرې کړې چې حقاني د شبکې مهمات یې لیږدول. د ۲۰۱۱ کال څخه سیدالله همدارنګه د دغې ډلې د استخدامولو په چارو کې ښکیل و چې لږ تر لږه د حقاني د شبکې د یوه تن استخدام شوي کس د معلومولو او ارزونې کار یې تر سره کړی.

د ۲۰۱۳ کال په وروستیو کې سیدالله د حقاني د شبکې د مالي تمویل د مسوولینو ، خلیل احمد حقاني ,(TAi.150) ، فضل ربي ,(TAi.157) اود حقاني د شبکې د نورو غړو سره چې په کې یو تن د بریدونو تسهیل کونکی هم شامل دی د خلیج هیوادونو ته سفر درلود. په ۲۰۱۰ کال کې سیدالله د حقاني د شبکې د یوې ډلې مشرانو سره چې په کې د حقاني د شبکې چارواکي ، احمد جان وزیر اختر محمد ,(TAi.159) چې اوس وخت کې مړ دی خلیج ته سفر وکړ.

د ۲۰۱۳ کال په وروستیو کې سیدالله د راپورونو له مخې د القاعده (QDe.004) د غړو له خوا د حقاني د شبکې سره په تړاو کې اعتبار تر لاسه کړ چې کولای شي د هر ډول ستونزې د هوارۍ په لړ کې د وګړو نیولو په شمول مرسته وکړي.
د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې سیدالله جان ځینې وختونه د یحی حقاني سره سفر درلود څو د حقاني شبکې د مالي چارو د نماینده نصیرالدین حقاني .(TAi.146) سره ، چې اوس مړ دی لیدنې ولري.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
نصیرالدین حقاني (TAi.146)
خلیل احمد حقاني (TAi.150) د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۹ نېټه په لست کې راغلی دی
فضل ربي (TAi.157)
احمد جان وزیر اختر محمد (TAi.159)
د حقاني شبکه (TAe.012) د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۵ نېټه په لست کې راغلې ده
القاعده ,(QDe.004) د ۲۰۰۱ کال د اکتوبر په ۶ نېټه په لست کې راغلی ده

***

<u>**TAi.171 محمد عمر ځدران**</u>
هغه نېټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۴ کال د جولای ۳۱ نېټه
محمد عمر ځدران د **۲۰۱۴ کال د جولای په ۳۱ نېټه** د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) پریکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*
محمد عمر ځدران (عمر) ، د حقاني دشبکې (TAe.012) مشر دی چې نوموړی د ۲۰۱۳ کال راهیسې د افغانستان د خوست په ولایت کې د ۱۰۰ تنو قومانده په لاس کې لري . عمر د ۲۰۰۵ کال راهیسې د حقاني د شبکې د تش په نوم ولسوال ، او د سراج الدین جلال الدین حقاني(TAi.144) تر مشرتابه لاندې د قومندان په توګه کار کړی او د ۲۰۰۶ کال څخه راهیسې یې د حقاني شبکې له خوا بریدونه پلان کړي او یا هم رهبري کړي دي. عمر د طالبانو سره کار کړی او په ۲۰۱۰ کال کې یې د طالبانو د شورا ، چې د طالبانو له خوا جوړه شوې وه څو د شورشیانو لپاره د لوژیستیک ، اړتیاوو ، روزنو ، د قوماندانانو لپاره د دندو

سپارلو ، او د افغانستان په سهیل کې د ترهګریزو هستو د ځای پر ځای کولو پر موضوعاتو بحث وکړي ، دغړي په توګه دنده ترسره کړې. همدارنګه په ۲۰۱۰ کال کې عمر د سراج الدین حقاني څخه حکمونه تر لاسه کول.

عمر د افغانانو ، افغان دولت ، او په افغانستان کې د ایتلاف د پرسونل په وړاندې د حقاني شبکې او طالبانو دواړو له اړخه د بریدونو په چمتو کولو او پلان کولو کې ونډه درلودله. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې عمر افغانستان ته د چاودیدونکو توکو د قاچاقولو مسوولیت درلود. په ۲۰۱۲ کال کې عمر اود حقاني دشبکې په لسګونو غړو د ایتلاف د ځواکونو د یوه کمپ په وړاندې په نقلیه وسیله کې د تعبیه شوو چاودیدونکو توکو د برید د ترسره کولو لپاره کار وکړ ، او همدارنګه د افغانستان د پکتیا په ولایت کې د قطعاتو په وړاندې د برید په پلانولو کې ښکیل و. د ۲۰۱۱ کال څخه عمرد ځانمرګو بریدونو په پلانولو کې ښکیل و. په ۲۰۱۰ کال کې عمر د حقاني د شبکې د قوماندان له اړخه دنده درلودله چې هغه محلي افغانان چې په خوست ، پکتیا ، پکتیکا ، او بغلان ولایتونو کې یې د ایتلافي ځواکونو سره کارکولو اختطاف او ویې وژني. په ۲۰۱۰ کال کې عمر او په سیمه کې نور وسله وال مشران دې موافقې ته و رسیدل چې د افغانستان د دولت او ایتلافي ځواکونو په وړاندې بریدوونه ډیر کړي ، د بیلابیلو ولسوالیو کنترول ترلاسه ، د ملي شورا ټاکنې ، دسړکونود جوړولو چارې ټکنۍ کړي او محلي ځوانان استخدام کړي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
سراج الدین جلال الدین حقاني (TAi.144)
د حقاني شبکه (TAe.012) (HQN)

***

**<u>TAi.172 قاري رحمت</u>**
هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۴ کال د اګست ۲۱ نیټه
قاري رحمت د ۲۰۱۴ **کال د اګست په ۲۱ نیټه** د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) پریکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې ، " د وسلو او اړوندو موادو د تدارکاتو ، پلورلو او لیږد چارې تر سره کول " او همدارنګه " دهغوي لپاره د استخدامولو" " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلی دی.

*اضافي معلومات:*
قاري رحمت د ۲۰۱۰ کال د فبروری څخه د طالبانو قوماندان دی. د ۲۰۱۳ کال په لومړیو کې ، رحمت د افغانستان د ننګرهار ولایت د اچین د ولسوالۍ د شډل بازار په سیمه کې د طالبانو د قوماندان په صفت دنده درلوده. رحمت نږدې د ۳۰۰ طالب جنګیالیو فعالیتونه د اچین په ولسوالۍ کې تنظیمول او د دغو عملیاتو لپاره یې عملیاتي لارښوونې او وسلې برابرې کړي دي. د ۲۰۱۲ کال په وروستیو کې رحمت د افغانستان د ننګرهار ولایت د کوټ په ولسوالۍ کې په افغان وسله والو ځواکونو باندې د یوه برید مشري درلودله . د ۲۰۱۲ کال په نیمه کې رحمت د افغانستان د ننګرهار د ولایت د اچین د ولسوالۍ لپاره د طالبانو د تش په نوم ولسوال دنده پرغاړه درلودله. په دغه موده کې رحمت د طالبانو تسهیل کوونکی و چې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي یې ځای پرځای کړي او د نړیوالو امنیتي او افغان ځواکونو پر خلاف یې بریدونه ترسره کړي دي.

رحمت همدارنګه د طالبانو له خوا د خلکو څخه ماليه او رشوتونه را ټولوي. د ۲۰۱۳ کال په لومړيو کې رحمت د افغانستان د ننګرهار د ولايت د اچين په ولسوالۍ کې د مخدره توکو د هغو قاچاق کوونکو څخه چې په شدل بازار کې وو د طالبانو په نوم يې د هغوي څخه ماليه راټوله کړه. د ۲۰۱۲ کال په نيمه کې رحمت د طالبانو لپاره د نشه يي توکو د قاچاق کوونکو څخه د طالبانو لپاره ټکسونه راټول کړل.

رحمت طالبانوته استخباراتي معلومات برابروي ، د ۲۰۱۳ کال په لومړيو کې رحمت خپلو طالب سوپروايزرانو ته د افغانستان د ننګرهار د ولايت د اچين په ولسوالۍ کې د افغان دولت د چارواکو او افغان امنيتي ځواکونو د فعاليتونو په اړوند معلومات راټول کړي دي. رحمت د ۲۰۱۲ کال په نيمه کې د طالبانو لپاره د افغان دولت د کار مندانو څخه استخباراتي معلومات راټول کړي دي او همدارنګه يې داسې تحقيقات کړي چې له مخې يې د ايساف او افغان دولت ته د معلوماتو د برابرونکو په افشاء کې د طالبانو پر ګټه کار اخيستی دی.
رحمت همدارنګه طالبو جنګياليو ته د مهلکو وسايلو مرسته ، هستوګنه ، او لارښووني برابرې کړي دي. د ۲۰۱۲ کال په وروستيو کې رحمت طالبانو ته آرپي جي يا د راکټ د لارې د ګوازاريدونکي بمونه ، د پي کي ايم سپکې ماشين ګنې ، او ۴۷ ډوله د کلاشنيکوف ټوپکې برابرې کړي دي. رحمت همدارنګه پخپل ميلمستون کې طالب جنګياليو ته ځاي ورکړی او هغوي ته يې په دغه موده کې د تاکتيکونو په اړوند لارښووني برابرې کړي دي. د ۲۰۱۱ کال په وروستيو کې ، رحمت د اچين په ولسوالۍ کې يو ميلمستون درلود چې هلته د طالبانو غړي اکثره پاتې کيدل.

***

**TAi.173 عبدالبصير نورزای**
هغه نيټه چې په کې دغه د تشريح لنډيز د کميټې په ويب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځيد: ۲۷ مارچ ۲۰۱۵
عبدالبصير نورزی د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۷ نېټه د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) ګڼې پريکړه ليک د ۲ پراګراف په تعقيب " د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي د نوم د لاندې ، د هغوي له اړخه او د هغوي په ملاتړ کې د کړنو او فعاليتونو په تمويل ، پلانولو ، تسهيل کولو ، چمتو کولو او يا تر سره کولو " او " يا هم په بل ډول کړنې او فعاليتونه ملاتړ کوي" هغوي چې توظيف شوي دي او نور افراد ، ډلې قرار داديان او موسسې چې د طالبانو سره په تړاو کې دي او د افغانستان د سولې ، ټيکاو او امنيت لپاره يو تهديد رامنځته کوي ، په لست کې راغلي دي.

*اضافي معلومات*
حاجي عبدالبصير (بصير) د حاجي بصير او ضر جميل د حواله کمپنۍ ( TAe.014 ) مالک دی او هغه چلوي. بصير د دې صلاحيت درلود چې طالبانو ته پيسې و ويشي ، او په تيرو اوو کلونو کې بصير په زرګونو ډالر د خپلې حوالې له لارې د طالبانو غړو ته په سيمه کې ويشلي دي. بصير د طالبانو فعاليتونه د خپلې حوالې د لارې تمويل کړي دي ، د طالبانو مشرانو ته يې پيسې ليږدولې او د طالبانو د مخبرانو سفرونه يې تسهيل کړي دي.
د ۲۰۱۲ کال راهيسې بصير د طالبانو د مشرتابه لپاره د پيسو د اصلي تبادله کوونکي په توګه ګڼل شوی و. همدارنګه په ۲۰۱۰ کال کې بصير د هغو پاکستاني او افغان جلا وطنو کسانو څخه چې په چاپان ، په عربي اماراتو او سينګاپور کې اوسيږي د طالبانو لپاره اعانې را ټولې کړي دي.
اړوند لست شوي افراد او موسسې:
حاجي بصير او ضرجميل د حواله کمپني (TAe.014) د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۷ نېټه په لست کې راغلی دي.

**TAi.173 نوم آغاتورک**

*هغه نېټه په کومه چې د تشریحاتو لنډیز د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ و: د ۲۰۱۵ کال دنومبر ۲ نېټه*

تورک آغا د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۲ نېټه د ۲۱۶۰ (۲۰۱۴) مې ګڼې پرېکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب "د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي د نوم د لاندې ، د هغوي له اړخه او د هغوي په ملاتړ کې د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او یا تر سره کولو " او " یا هم په بل ډول کړنې او فعالیتونه ملاتړ کوي" هغوي چې توظیف شوي دي او نور افراد ، ډلې قرار دادیان او موسسې چې د طالبانو سره په تړاو کې دي او د افغانستان د سولې ، ټیکاو او امنیت لپاره یو تهدید رامنځته کوي ، په نوملړ کې شامل شوی و.

*نور معلومات:*

د ۲۰۱۴ کال تر وروستیو پورې د طالبانو د لوړ پوړي مشر په توګه تورک آغا(تورک) د " کویټې د شورا" کوم چې یو سیمه ییز ارګان دی چې د افغانستان د سهیل لویدیز په سیمه کې د طالبانو د فعالیتونو رهبري کوي دنده ترسره کړې او د خلیج میشتو مرسته کوونکو د لارې د تمویل د برابرولو په برخه کې یې نقش لوبولی دی.

د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې تورک د هغې ډلې غړیتوب درلود چې د طالبانو د مشرتابه د ستراتیژیکي پلان جوړولو او لوژیستیکي عملیاتو په لړ کې یې مسوولیت درلود او همدارنګه یې د یو کلیدي قوماندان او د طالبانو د نظامي شورا د غړي په توګه فعالیت درلود ، او د طالبانو د نظامي عملیاتو د صلاحیت ورکولو او تسهیل لپاره یې دنده تر سره کړې. د طالبانو نظامي شورا د قوماندې د کچې د درې شورا ګانو څخه یوه هغه ده ، چې د طالبانو د عملیاتو د څارنې او د هغوي د نظامي مشرتابه د ګمارنو د تاییدونې مسوولیت لري.

د کلونو راهیسې ، تورک د یو شمیر افغان چارواکو او قومي مشرانو په وژنو کې ښکیل و. د دې سربیره ، د ۲۰۱۲ کال د لومړیو راهیسې ،نوموړی د هغو څلورو لوړ رتبه طالبانو د جملې څخه یو و چا چې د افغان دولتي چارواکو د قتلولو لپاره د نا پیژندل شویو کیمیاوي پوډرو د کارولو اجازه ورکړې وه.

له هغه وروسته چې د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې نوموړي ته د روژې په میاشت کې د طالبانو د یوه لوړ پوړي چارواکي لخوا د خارجي مالي تمویل د تنظیمولو په هکله د سعودي عربستان څخه د سفر کولو په موخه دستور ورکړل شو ، په ۲۰۱۲ کال کې تورک او یو شمیر نورو طالبانو "د کویټې د شورا" غړو څو تنو ملایانو ته دنده وسپارله څو د سعودي عربستان او نورو عربي هیوادونو څخه لیدنه وکړي او د طالبانو په استازیتوب د افغان سوداګرو او قاچاق کونکو څخه مالي بسپنې را ټولې کړي. د ۲۰۱۲ کال په لومړیو کې ، تورک د یوه نا پیژندل شوي عرب تمویل کونکي څخه بسپنه ترلاسه کړه او لارښونه یې کړې وه چې دا بسپنه د وژنو د عملیاتو په برخه کې د طالبانو لپاره د ارزګان د تش په نامه والي لپاره انتقال کړي.

تورک په ۲۰۱۰ کال کې د طالبانو لپاره د خلیج میشتو تمویل کونکو څخه نږدې څلور میلیونه امریکایې ډالره تر لاسه کړي ، نوموړي د دغو مرستو زیاتره برخه لوړ رتبه طالب مشرانو او د طالبانو مالي خزانه دار ګل آغا اسحق زي (ګل آغا) (Tai.147) ته سپارلې. په ۲۰۱۰ کال کې د هغو مرستو بیلابیلې سرچینې او مقدار چې د تورک لخوا ګل آغا ته انتقال شوې په لاندې ډول دي: په سعودي عربستان کې د ملګرو لخوا ۱ میلیون امریکایې ډالره ، په قطر ، متحده عربي اماراتو او سعودي عربستان کې د تمویل کونکو لخوا ۲ میلیونه امریکایې ډالره ، او قطر ته د مرستو د راجلبولو د یوه سفر پر مهال د بیلابیلو عربي تمویل کونکو څخه ۶۰۰۰۰۰ امرکایې ډالره.

د ۲۰۰۹ کال په وروستیو کې ، تورک د قطر او سعودي عربستان د نا څرګندو تمویل کونکو څخه ۲ میلیونه امریکایې ډالره چې د "کویټې شورا" د خزانه دار لپاره په نظر کې نیول شوې و ، تر لاسه کړي. هغه د پام وړ مرستې کومې چې تورک د روژې په میاشت کې د " طالبانو د کویټې " شورا لپاره را غونډې کړې په نا څرګندو پاکستانې بانکونو کې ساتل کیدې او د طالبانو د مشر خزانه دار تر کنترول لاندې وې.

---

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

د ۲۰۰۶ کال په نیمايي موده کې ، تورک د بیلابیلو عملیاتي طالب قومندانانو لپاره طالب جنګيالې په دندو وګمارل. نوموړی د طالب مشرتابه او هغو عرب جنګیالیو تر منځ څوک چې پاکستان او افغانستان ته راځي او غواړي د ایساف په وړاندې وجنګیږي مهمه اړیکه وه.

اړوند فهرست شوي اشخاص او نهادونه

ګل آغا اسحق زي (Tai.147) ، د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ فهرست شوی.

---

## ب برخه: له طالبانو سره تړلې موسسې

**<u>TAe.010 د حاجي خیرالله او حاجي ستار صرافي</u>**

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۲ کال د جون۲۹ نیټه

.

د حاجي خیرالله او حاجي ستار صرافي د **۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه** د ۱۹۸۸(۲۰۱۱) ګڼې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلې ده.

*اضافي معلومات :*

. د حاجي خیرالله او حاجي ستار صرافي (HKHS) د عبدالستار عبدالمنان (TAi.162) او خیرالله بارکزاي خدای نظر (TAi.163) ګډ ملکیت دی. ستار او خیرالله په ګډه سره په افغانستان ، پاکستان ، اود عربي اماراتو په دوبۍ کې د صرافۍ چارې پر مخ وړي. د طالبانو مشرانو د HKHS په ذریعه د طالبانو تش په نوم والیانو او قومندانانو ته پیسې ویشلې دي او د طالبانو لپاره د حوالو ( غیررسمي د پیسو لیږدونې) د لارې د پیسو انتقالات تر لاسه کوي.

له ۲۰۱۱ کال څخه راهیسې طالب مشرانو په افغانستان کې طالب قوماندانانو ته د HKHS صرافي له لارې پیسې استولې دي. د ۲۰۱۱ کال په پاي کې د دې صرافۍ د یوې څانګې له لارې د هلمند په ولایت کې د لشکر ګاه ښار کې طالب غیر رسمي یا تش په نوم والي ته پیسې استول شوي دي ، د ۲۰۱۱ کال په نیمایي کې طالب قوماندان د افغانستان او پاکستان ترمنځ په سرحدي سیمه کې د دې صرافۍ د یوې څانګې په ذریعه افغانستان ته د طالب جنګیالیو اوعملیاتو لپاره پیسې استولې دي . کله چې طالبانو د HKHS له دې څانګې سره هره میاشت زیاته اندازه پیسې زخیره کړې ، د طالبانو قوماندانانو کولای شو چې د ایچ کې ایس له هرې څانګې بیا پیسې وباسي. په ۲۰۱۰ کال کې طالب کار مندانو د HKHS په ذریعه افغانستان ته پیسې حواله کړې چې هلته د طالب قوماندانانو د خپلو عملیاتو د تمویل لپاره په کارولي دي. د ۲۰۰۹ له پاي څخه د HKHS منیجر په لشکرګاه کې د دې صرافۍ له لارې د طالبانو د پانګې خوځښت تر څارنې لاندې نیولی.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

عبدالستار عبدالمنان (TAi.162) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه په لست کې راغلی دی

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

خیرالله بارکزای خدای نظر (TAi.163) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه په لست کې راغلی دی

***

<u>**TAe.011 د روشن صرافي**</u>

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۲ کال د جون۲۹ نیټه
د روشن صرافي د **۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نیټه** د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګڼي پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي ، چې د طالبانو سره یو ځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي په لست کې راغلې ده.

*اضافي معلومات:*
د روشن صرافي( RMX) د طالبانو د وسله والو فعالیتونو د ملاتړ او په افغانستان کې د نشه يي توکو په سوداګری کې د طالبانو د نقش د ساتنې په موخه مالي تمویلونه زیرمه کوي او پیسې لیږدوي. د روشن صرافي د حوالو د لومړنیو دفترونو څخه دی چې د طالب چارواکو له خوا د هلمند په ولایت کې د ۲۰۱۱ کال څخه کارول کیږي.

په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو یوه لوړ پوړي غړي په سلګونو زره ډالر د افغانستان- پاکستان د پولې په سیمه کې د روشن د صرافۍ له څانګې څخه را و ویستل چې د طالبانو تش په نوم والیانو ته يې و ویشي. د دې لپاره چې د طالبانو د ۲۰۱۱ کال د پسرلني یرغل تمویل ترسره کړي ، د طالبانو د هلمند د ولایت تش په نوم والي په لسګونو زره ډالر د روشن صرافۍ ته واستول . همدارنګه په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو یوه غړي په لسګونو زره ډالر د روشن د صرافۍ څخه تر لاسه کړل چې پرې د وسله والو عملیاتو ملاتړ وکړي. د روشن د صرافۍ یوه څانګه د افغانستان –پاکستان په پوله هم همدارنګه په لسګونو زره ډالر د ځان سره لري چې د طالب قوماندان له خوا راټول شوي دي. په ۲۰۱۰ کال کې د هلمند د ولایت د طالبانو د تش په نوم والي له خوا د طالبانو یو غړي د روشن له صرافۍ څخه په زرګونو ډالر د افغانستان-پاکستان سرحدي سیمې ته استولي دي.

د روشن د صرافۍ د هلمند د ولایت د لشکر ګاه څانګه د طالبانو له خوا د دې لپاره کارول کیږي چې د محلي عملیاتو لپاره مالي تمویل ترسره کړي. په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو د دوهمې قدمې یو تن قوماندان په لسګونو زره ډالر د روشن د صرافۍ د لشکرګاه د څانګې له لارې د طالبانو یو قوماندان ته استولي دي. طالبانو همدارنګه پیسې د روشن د صرافۍ د لشکرګاه څانګې ته استولې دي چې په ۲۰۱۰ کال کې د طالب قوماندانانو تر منځ و ویشلې شي. همدارنګه په ۲۰۱۰ کال کې د طالبانو یوه غړي د روشن د صرافۍ د لارې په لسګونو زره ډالر د افغانستان د هلمند او هرات ولایتونو ته د هلمند د ولایت لپاره د طالبانو د تش په نوم والي له لوري استولي دي.

په ۲۰۰۹ کال کې د طالبانو یوه لوړ پوړي مشر د افغانستان- پاکستان د پولې په سیمه کې د روشن د صرافۍ له څانګې څخه په سلګونو زره ډالر راټول کړي دي چې په افغانستان کې پرې وسله وال فعالیتونه او عملیات پرمخ یوسي. هغه پیسې چې په ایران کې تر لاسه شوي د روشن صرافۍ ته استول شوي. په ۲۰۰۸ کال کې د طالبانو یو مشر د روشن له صرافۍ څخه په ګټې اخیستو سره په لسګونو زره ډالر د پاکستان څخه افغانستان ته لیږدولي دي.

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

طالبان همدارنګه د روشن له صرافۍ څخه کار اخلي څو د افغانستان د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې خپل نقش ولوبوي. د ۲۰۱۱ کال څخه طالب چارواکو چې د هلمند د ولایت لپاره د طالبانو تش په نوم والي هم په کې شامل دی په سلګونو زره ډالر د افغانستان- پاکستان د پولې په سيمه کې د روشن د صرافۍ د لارې د حوالو په نوم افغانستان ته استولي دي چې د طالب چارواکو په استازيتوب پرې نشه يي توکي را ونيسي. همدارنګه په ۲۰۱۱ کال کې د طالبانو يوه چارواکي د هلمند په ولايت کې د طالب قومندانان دې ته را وبلل چې د ترياکو له درکه پيسې د روشن د صرافۍ د لارې وليږدوي. د طالبانو يوتن ولسوال په زرګونو ډالر د افغانستان د هلمند د مارجې د ولسوالۍ څخه د افغانستان-پاکستان د پولې په سيمه کې د روشن د صرافۍ ځانګې ته وليږدول.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*

***

**<u>TAe.012 د حقاني شبکه</u>**

هغه نېټه چې دغه ليکنه د کميټې په ويب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځيدله : د ۲۰۱۲ کال د نوومبر ۵ نېټه

د حقاني شبکه د **۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۵ نېټه** د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګڼې پريکړه ليک د ۳ پراګراف په تعقيب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعاليتونو په تمويل ، پلانولو ، تسهيل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کيدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، يا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظيف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو او موسسو د کړنو او فعاليتونو ملاتړ کوي ، چې د طالبانو سره يوځاي دي" چې په افغانستان کې سوله ټيکاو او امنيت تهديدوي ، په لست کې راغلې ده.

*نور معلومات:*

د حقاني شبکه د ۱۹۷۰ لسيزې د وروستيو څخه د افغانستان په شخړه کې خپلې ريښې لري. د ۱۹۸۰ لسيزې په کلونو کې جلال الدين حقاني (TAi.040)، د حقاني د شبکې موسس د القاعده د مشر اسامه بن لادن( اوس مړ) (QDe.004) د القاعده د بنديزونو په لست کې) اړيکي جوړ کړل. جلا ل الدين د طالبانو له خوځښت سره په ۱۹۹۵ کال کې يو ځای شو ، خو د افغانستان- پاکستان په پوله کې يې خپل د نفوذ او ځواک مرکز وساتلو. د طالبانو د سقوط وروسته په ۲۰۰۱ کال کې د جلال الدين زوي ، سراج الدين حقاني (TAi.144) د دغې شبکې کنترول تر لاسه کړ او له هغه مهاله يې په افغانستان کې دغه شبکه د شورشي فعاليتونوپه لومړۍ ليکه کې وساتله.

د حقاني شبکه په افغانستان کې د لوړې کچې د زياتو بريدونو لپاره مسووليت لري. د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ په مياشت کې ، د حقاني د شبکې يرغلګرو په کابل کې د سرينا پر هوټل بريد وکړ او هلته يې اته تنه و وژل. د ۲۰۱۰ کال په جنورۍ کې د حقاني شبکې په کابل کې په کليدي دولتي ودانيو باندې د همغږو کړای شويو بريدونو مسووليت درلود چې په پايله کې يې پنځه تنه و وژل شول او نور ۷۰ تنه ټپيان شول. د ۲۰۱۱ کال په جون کې دغه شبکه د کابل پر انټرکانټينينټل هوټل باندې د بريد لپاره مسووله ده چې په دغه بريد کې ۱۱ تنه افغان ملکيان او دوه پوليس و وژل شول. د حقاني شبکه همدارنګه په کابل کې د امريکې د متحده ايالاتو پرسفارت او د نړيوالو سوله ساتو ځواکونو ( ايساف) پر قرارګاه باندې د ۲۰۱۱ کال د سپټمبر د مياشتې د بريدونو مسووليت لري. د ۱۹ ساعتونو په دغه بريد کې ۱۶ تنه افغانان و وژل شول چې په هغو کې لږ تر لږه ۶ تنه ماشومان هم شامل دي. دغه ډله همدارنګه د هغو همغږو شويو بريدونو مسووليت پرغاړه لري چې د ۲۰۱۲ کال د اپريل په ۱۵ نېټه په کابل او د افغانستان په نورو دريوښارونو کې ترسره شول ، چې ۱۸ ساعته وخت يې ونيو اولږ تر لږه ۱۱ تنه افغان امنيتي کارکوونکي

او څلور ملکیان یې و وژل. د حقاني شبکه همدارنګه په یو شمیراختطافونو کې لاس لري او د طالبانو او نورو وسله والو سازمانونو سره په افغانستان کې همکاري لري.

*اړوند لست شوي افرد او موسسې:*

جلال الدین حقاني (TAi.040) د ۲۰۰۱ کال د جنورۍ په ۳۱ نیټه په لست کې راغلی دی
سراج الدین جلال الدین حقاني (TAi.144) د ۲۰۰۷ کال د سپټمبر په ۱۳ نیټه په لست کې راغلی دی
نصیرالدین حقاني ,(TAi.146) د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ نیټه په لست کې راغلی دی
خلیل احمد حقاني (TAi.150) د ۲۰۱۱ کال د فبرورۍ په ۹ نیټه په لست کې راغلی دی
سنګین ځدران شیر محمد (TAi.152) د ۲۰۱۱ کال د اګست په ۱۶ نیټه په لست کې راغلی دی
عبدالعزیز اباسین (TAi.155) د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر په ۴ نیټه په لست کې راغلی دی
فضل ربي ,(TAi.157) د ۲۰۱۱ کال جنورۍ په ۶ نیټه په لست کې راغلی دی
احمد جان وزیر (TAi.159) د ۲۰۱۲ کال د جنورۍ په ۶ نیټه په لست کې راغلی دی
بخت ګل (TAi.161) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۷ نیټه په لست کې راغلی دی
عبدالروف ذاکر ,(TAi.164) د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۲۶ نیټه په لست کې راغلی دی
احمدشاه نورزی (TAi.164) د ۲۰۱۳ کال د فبرورۍ په ۲۶ نیټه په لست کې راغلی دی

***

<u>**TAe.013 د راحت لمټډ**</u>

هغه نیټه چې دغه لیکنه د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځیدله : د ۲۰۱۲ کال د نوومبر ۲۱ نیټه
د راحت لمټډ د **۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۲۱ نیټه** د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ګنې پریکړه لیک د ۳ پراګراف په تعقیب د طالبانو سره " د هغوي د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او مرتکب کیدلو کې ونډه لري ، د هغوي سره په تړاو کې ، د هغوي تر نوم لاندې ، د هغوي له خوا ، یا د هغوي په ملاتړ کې " او " په بل ډول د هغو توظیف شوو او نورو منفردو کسانو ، ډلو ، قراردادیانو/ ژمنو او موسسو د کړنو او فعالیتونو ملاتړ کوي چې د طالبانو سره یوځای دي" چې په افغانستان کې سوله ټیکاو او امنیت تهدیدوي ، په لست کې راغلې دی.

*نور معلومات :*
د راحت لمټډ د حوالو یوه شبکه ده چې د محمد قاسم میرولي خدای رحیم ,(TAi.165) ملکیت ګڼل کیږي ، په افغانستان ، پاکستان ، او ایران کې څانګې لري ، چې د طالبانو د شورشي فعالیتونو سره مالي مرسته کوي او ورته تسهیلات برابروي.

په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې د طالبانو لوړ پوړو چارواکو په منظم ډول د راحت لمټډ د بیلابیلو څانګو څخه کار اخیستی څو په دې توګه د بهرنیو ډونرانو او د نشه یي توکو د قاچاق کوونکو څخه تر لاسه شوې پیسې زیرمه او ولیږدوي. په دې کې په ځانګړې توګه د پام وړ هغه پیسې شاملې دي چې د طالبانو د تش په نوم والي له خوا د راحت لمټډ له لارې پریمینتلې شوي دي. په ۲۰۱۱ او ۲۰۱۲ کلونو کې په بیلابیلو مناسبتونو د طالبانو لوړ پوړو چارواکو د راحت لمټډ له لارې د د سلګونو زرو امریکایي

په وروستي ځل د ۲۰۱۵ کال د نومبر په ۳ تازه شوی

ډالرو د پیسو لیږدونې ، چې د خلیج د سیمې او ایران څخه د تمویل په موخه استول شوي دي څو د طالبانو شورشي فعالیتونه تمویل کړي ، څارلي دي.

د طالبانو لوړ پوړي چارواکي پخپله شخصاً د راحت لمټډ د څانګو د منیجرانو سره په اړیکو کې راغلي او د راحت لمټډ څانګو ته په وار وار ورغلي او د راحت لمټډ څخه یې کار اخیستی څو خپلې پیسې سپما او یا هم ولیږدوي او د افغانستان دننه د شورشي فعالیتونو تمویل وکړي. په دې وروستیو کې د افغانستان د هلمند د ولایت لپاره د طالبانو تش په نوم والي محمد نعیم بړیځ (TAi.013) ، چې همدارنګه په ملا نعیم بړیځ مشهور دی د راحت لمټډ له لارې د لاندې کچې د قومندانانو لپاره مالي تمویل برابر کړ ؛ څو د افغانستان په سهیل کې شورشي فعالیتونه پلان او پرمخ یوسي. دغه عملیات په افغانستان کې په مستقیم ډول سوله ، ټیکاو او امنیت تهدیدوي.

د راحت لمټډ د افغانستان- پاکستان د پولې په سیمه کې د هغه د څانګې د منیجر له خوا چې نیغ په نیغ د نشه یي موادو په قاچاق کې لاس لري چې د نشه یي توکو د دغو شبکو د لوړ پوړو ځیرو سره نږدې اړیکي لري د طالبانو سره تړلو د نشه یي توکو شبکوته مالي خدمات برابروي.

*اړوند لست شوي افراد او موسسې:*
*محمد نعیم بړیځ* (TAi.013) د ۲۰۰۱ کال د فبرورۍ په ۲۳ نیټه په لست کې راغلی
محمد قاسم میر ولي خدای رحیم (TAi.165) د ۲۰۱۲ کال د نوومبر په ۲۱ نیټه په لست کې راغلی

**TAe.014 حاجي بصیر او ضرجمیل د حواله کمپني**
هغه نېټه په کومه چې دغه د تشریح لنډیز د کمیټې په ویب پاڼه کې د لاس رسي وړ وګرځید: ۲۷ مارچ ۲۰۱۵
د حاجي بصیر او ضرجمیل د حواله کمپني د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۷ نېټه د ۲۱۶۰(۲۰۱۴) ګڼې پریکړه لیک د ۲ پراګراف په تعقیب "د هغوی سره په تړاو کې ، د هغوي د نوم د لاندې ، د هغوي له اړخه او د هغوي په ملاتړ کې د کړنو او فعالیتونو په تمویل ، پلانولو ، تسهیل کولو ، چمتو کولو او یا تر سره کولو " او " یا هم په بل ډول کړنې او فعالیتونه ملاتړ کوي" هغوي چې توظیف شوي دي او نور افراد ، ډلې قرار دادیان او موسسې چې د طالبانو سره په تړاو کې دي او د افغانستان د سولې ، ټیکاو او امنیت لپاره یو تهدید رامنځته کوي.

**اضافي معلومات:**
د حاجي بصیر او ضر جمیل د حواله کمپني ( بصیر او ضرجمیل حواله) د پاکستان د بلوچستان آیالت په چمن کې ، د عبدالبصیر نورزي (TAi.173) مالکیت دی. هغه په سیمه کې د طالبانو غړو ته پیسې ویشي. د طالبانو د لوړې کچې مشران په سیمه کې دې ته ترجیح ورکوي چې د طالبانو قوماندانانو ته د بصیر ضرجمیل حواله او دحاجي خیرالله حاجي ستار د پیسو د تبادلې (TAe.010 ) د لارې پیسې ولیږدوي ،
په ۲۰۱۳ کال کې د بصیر ضر جمیل حواله په زرګونو ډالر په سیمه کې د طالبانو قوماندانانو ته ویشلي دي او د طالبانو عملیات یې د مالي لارې تسهیل کړي دي. په ۲۰۱۲ کال کې د بصیر ضرجمیل حواله په زرګونو ډالر د طالبانو لپاره د وسلو د اړوندو معاملو او عملیاتي لګښتونو لپاره لیږدولي دي.
**اړوند لست شوي افراد او موسسې:**
حاجي خیرالله حاجي ستار د پیسو تبادله ( TAe.010 ) د ۲۰۱۲ کال د جون په ۲۹ نېټه په لست کې راغلی دی
عبدالبصیر نورزی (TAi.173 ) د ۲۰۱۵ کال د مارچ په ۲۷ نېټه په لست کې راغلی دی.